محمد ایاز نوری

۲۰۱۵/ ۱۱/ ۳۰

د استاذ سید محمد سوما د وروستی لیکنې په باب، د ډاکټر محمد یوسف سره یې مرکه

د کابل د پوهنتون د پخواني استاذ محترم سید محمد سوما لیکنه مې، چې هغه جناب د هیواد د لومړني نه خانداني صدراعظم، مرحوم ډاکټر محمد یوسف خان سره یې تر سره کړې او اوس یې خپل یاد ساتلي مسایل خپلو افغانانو ته تقدیم کړي، په علاقې سره ولوستله. هغه ټکی، چې د استاذ په دې لیکنه کې بنستیز دئ د مرحوم لومړي وزیر یوسف خان د استعفاء اصلي علت او د پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه موقف نیونه ده.

استاذ سوما پخپله مقاله کې راوړي: (شاد روان داکتر صاحب ؛؛منظور یوسف خان؛؛ علت استعفاء خود را عمدتا عدم پشتیبانی مقام سلطنت، مشکلات در بین شوری و بیم و عدم اعتماد ازهمکاری اعضای کابینه در صورت پافشاری در ادامه کار وهمچنان بصورت نسبی مشکل صحی ابراز داشتند).

سرچینه: (داکتر سید محمد سوما، صحبت های مرحوم دکتور محمد یوسف صدراعظم اسبق افغانستان به ارتباط استعفی از مقام صدارت، افغان جرمن ان لاین)

لکه دلته، چې د مرحوم یوسف ګیلي ته ګورو، دئ لومړنی علت د پاچا څخه ګڼي او د ؛؛عمدتا؛؛ کلمه هم هلته ورته استعمالوي.

په دوام د خاطرو موظف صدراعظم وایي: " کسانیکه امتیازات خود را از دست داده بودند، متوسل به یک سلسله اقدامات بر ضد حکومت وقت و شخص اینجانب زدند و بهر وسیله که ممکن بود خواستند تا نظر شاه را در مقابل من و اعضای حکومت مغشوش بسازند. البته بعضی طرزالعمل های اینجانب هم در این ناحیه خالی از اثر نبوده است. شاد روان به این ارتباط گفتند که پس از آنکه شاه وی را مامور به تشکیل حکومت ساختند، در اولین دیدار اعلیحضرت یک ورق کاغذی را که محتوی اسمای کابینه بود، از جیب شان بیرون آورده و بمن گفت که این لست اعضای کابینه شما میباشد. من به جواب شان عرض کردم که حضور ملوکانه بنابر اعتماد به اینجانب، مرا موظف ساختن کابینه کرده اند، اجازه بدهند تا من صلاحیت این کار را عهده دار گردیده و کابینه خود را البته به مشوره اعلیحضرت، خود تشکیل دهم. ظاهرشاه که ازین عملم بر افروخته شده بود، کاغذ را دو باره به جیب کرده و فرمودند مثل اینکه شما به مشوره ما ضرورتی ندارید و هر طوری که خود می خواهید کابینه تان را بسازید. مرحوم داکتر محمد یوسف در برابر سوالی که آیا بعدا در مورد اسامی مندرج آن لست اطلاعی حاصل توانستند، جواب منفی دادند".

سر چینه: هم هغه پورته ذکر شوی

دلته موضوع څکه مهمه کیږي، چې نظام " **مشروطه شاهي**" اعلان شوی وه، او د وخت پاچا موظف صدراعظم خپل دفتر ته ورغواړي او د هغه د کابینې لست بدون د صدراعظم د خبروالي نه، له خپل جیب!! نه راوباسي او په یوسف خان یې تحمیل کوي. که مونږ دلته داسی قضاوت وکړو، چې اعلیحضرت د مشروطه شاهي نظام په اصلي مفهوم نه پوهیده، دا سم قضاوت نه ده، بلکې زه وایم، چې پاچا او د کور منسوبین یې دی امر ته صادق نه ول، دوی صرف په ظاهر مشروطیت غوښته، تر څو خلک اغواء کړي، لیکن د عمل په ډګر کې بیا هم دا پاچا وه، چې باید ټول کاره پاتې شوی وای.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دوام مرحوم داکتریوسف وایی: " فعالیت های ضد حکومت و بر خلاف من (داکتر یوسف) در بین شوری رخنه وارد کرده و مخصوصا در چند هفته قبل از اخذ رای اعتماد به حکومت یک فضای غیر مناسب علیه حکومت تشکل یافته بود. وکلای شوری در بیانات خود از حکومت وقت انتقاد نموده و مخصوصا بعضی از اعضای کابینه را مورد تاخت و تاز قرار داده بودند. یکی از مقربین شاه، (مرحوم استاد خلیلی) بعضی وکلای شوری را جوقه جوقه در منازل خود دعوت نموده و ضمن تبادل افکار و رسانیدن پیام اعلیحضرت به آنها خاطر نشان می ساخت که اگر شما به حکومت داکتر محمد یوسف رای اعتماد ندهید، اعلیحضرت ظاهرشاه از این تصمیم شما آزرده نخواهد شد". سرچینه: (هم هغه پورته ذکر شوی)

جالبه ده، چې په پورتني پاراګراف کې د خلیلی نوم هم لکه یو شر اچوونکی دولتي شخصیت او پاچا ته یو منلی کس او د ملي ضد او ولسي ګټو پر ضد د هغه د عمل نه، د وخت موظف صدراعظم هم سر ټکولای دئ. بنایسته بولم دلته وليکم، چې د خلیل الله خلیلي د سقوي صفته او افغان ملي ضد شخصیت او اعمالو سره د معرفت لپاره د افغان مبارز شخصیت او تکړه لیکوال او محقق شاغلي اعظم سیستانی لیکنو له هغې جملې (استاد خلیلی چرا کتاب عیاری از خراسان را نوشت؟، استاد خلیلی کی بود؟ اکادیمسن سیستانی، آرشیف افغان جرمن ان لاین مقاله نمبر ۴۷۹) د مطالعې وړاندیز کوم.

اوس د نظر د ورته والي او تشابح لپاره دلته زه، د موظف صدراعظم یوسف خان او د بهرنیو رسمی مقاماتو څرګندونې، د تش په نامه د دیموکراسي د لسیزې وضعیت ته را اړوم.

نتیجه تا امروز: چهار حکومت ناکام

«محدودیت های که پادشاه دراین تجربه دیموکراسی خود بر حکومت و صدراعظمان تحمیل کرده است عمده ترین سبب ناکامی چهار کابینه در هشت سال بوده است. بعد از یک آغاز امید وار کننده، هر کدام این حکومت ها در مقابل دیوار سنگی شوری ملی متوقف مانده و به دلیل عدم تفویض قدرت به آنها از انجام امور ناکام مانده اند تا زمانی که نفوذ آنها آنقدر پایین افتاده که دیگر راه نجات نداشته اند؛ و پادشاه بلافاصله آن حکومت شکست خورده را با حکومت جدید تعویض کرده است که از عین دیزاین قبلی ساخته شده است و این حکومت جدید موظف به حرکت درعین مسیر قبلی گردیده است. داکتر یوسف اولین صدراعظم بعد از [تصویب] قانون اساسی سال ۱۹۶۴ اولین تبعه عادی افغان بود که به این وظیفه مقرر شد. وی که از تعلیم یافته های مسلکی بود، تعلیم یافته های مسلکی را برای کابینه اش معرفی کرد. اما ولسی جرګه سال ۱۹۶۵ تقریبا سرتاسر متشکل از وکیلان متنفذ محافظه کار اطراف غیر شهری افغانستان و عمدتا زمینداران بود. حتی قبل از انتخابات مخاصمت بین کاندید شده گان برای وکالت در ولسی جرګه و کابینه داکتر یوسف مشهود بود و داکتر یوسف بلافاصله بعد از انتخابات شوری استعفا داد».

(سرچینه: افغان جرمن انلاین، ارشیف مقالات احمدفواد ارسلا، تحلیل وزارت خارجه امریکا از تجربه دیموکراسی افغانستان در سال ۱۹۷۳، چهار صدراعظم ناکام و قدرت پادشاه/قسمت چهارم)

دلته مونږ ګورو، چې د افغاني او بهرنیو شخصیتونو د عیني قضاوت پر بنسټ په هر حالت کې دا د وخت لومړی دولتي شخصیت، اعلیحضرت ظاهرشاه وه، چې د دیموکراسي د تحقق پر ضد یې عمل کاوه.

افغان لیکوال او محقق استاذ سیستانی، لیکي:

«سوال اساسی اینست که آیا میتوان در زمین شوره زار، دانه کاشت و توقع حاصل خوب از آنرا داشت؟ برای گرفتن حاصل خوب از زمین شوره زار، باید قبل از ریختن دانه، زمین را از شوره پاک نمود. تحقق دیموکراسی در میان مردم بیسواد، مثل کاشتن تخم در زمین شوره زار است. ظاهرشاه باید قبل از اعلام دیموکراسی، مردم را از نعمت سواد بهره مند میساخت و فقر و بیکاری در کشور را کاهش میداد، و اگر اینکار ها برایش مشکل بود، قدرت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خود را درتحقق عدالت اجتماعی بکار میگرفت و با فساد و رشوه خوری و اختلاس و زور مندان غاصب مبارزه میکرد، ولی شاه این همه کار های مهم و اساسی رانادیده گرفت و دیموکراسی را اعلام نمود.»(سرچینه: اکادمیسین سیستانی، کودتای ثور، حاصل دهه دیموکراسی بود، نه محصول کودتای داود خان، مقاله شماره ۵۰۲، آرشیف افغان جرمن ان لاین)

په لنډون کې زمونږ هیواد افغانستان او په کې موجود مظلوم ولس يې د ځلویشتمې لمریزې لسیزې په بهیر کې تر ۹۰ سلنه وګړي يې له لیک او لوست خخه بې برخې پاتې شوي ول، اکثریت د وګړو خپل د ورځینې دري وخته خوراک لپاره سرګردان او حیران ول. کله، چې د افغاني ټولنې وضعیت داسې کرغېړن وه، نو دا ماحول د دیموکراسي د تطبیق لپاره یوه مالګینه نه مساعده ځمکه وه او نتیجه يې هم ناکامه او د ولس د ژوند په شه والي کې بې اثره وه.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ